ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.8 No.2 2024

# په پښتو ادب کښې د تحقیق ارتقاي پلوُنه : عمومي جائزه

## Tracking back the footprints of Research in Pashto Literature: A historical analysis

**Abdul Samad**

Lecturer and Ph.D. Scholar at the Department of Pashto University of Balochistan

**Dr Barkat Shah Kakar**

Associate Professor/Chairperson Department of Pashto, University of Balochistan

**Abstract:**

*Literary Research has been integral to the national, cultural, and social histories of a particular language. Pashto is one of the top 50 languages of the world which has more than 50 million native speakers. Although the language has relied on the oral tradition and the written script, language codification has taken several centuries. The old Pashto script found in the books or inscriptions encompasses contrasting commentaries. The literary periods of Pashto literature reflect an incremental pattern of research. The ancient period which started in the mid-9th century AD provides footprints to track back the poetic and literary history. The second period also known as the classical period from the 16th to 19th century created a substantial corpus for research to be carried out in the following centuries. In the 20$^{th}$ century, the tradition of literary research has formally evolved. During the first half of the 20$^{th}$ century, the literary research has been led by individuals, in Afghanistan state patronage was instrumental to figure out research institutions that piloted literary research interventions. While the modern trends in research erupted in the second half of the 20th century in Afghanistan and Pakistan. This paper investigates the prospects of different academic and non-academic research endeavors in the course of history and analyses the features of research ventures in each of the said periods.*

**Key words:** Pashto Literature, Literary Periods, Patta Khazana, Academic Research, Modern Research Methods

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.8 No.2 2024

پېژندګلو:

پښتو د هندي آريائي ژبو د کهول يوه لرغونې ژبه ده چې تر دې مهاله په خپل مکمل وجود سره د نړۍ د نورو ژبو په قطار کښې ولاړه ده،د نړيوالو ژبو په حکله د چاپېدونکي ايتنالوګ د ۲۰۲۴ په ايډيشن کښې پښتو ژبه دنړۍ د هغو ژبو څخه يوه شمېرل شوې ده چې دمورنۍ ژبې په توګه يې د ويونکيو تعداد يې تر پنځوس مليونه ذيات دی- د خپلو نورو څنګلورو ژبو غوندې پښتو هم د تاريخ په اوږده پېر کښې د ليک و لوست ژبه نه ده پاتې شوې، که څه هم پښتنو په هند کې اوږدمهاله سلطنتونه قائم کړي دي خو هيڅ يوه سلطان پښتو د دربار ژبه نه ده ګرځولې، البته د نامتو ليکوال او ژبپوهه ډاکټر طارق رحمان د يوې مقالې له رويه موږ وئيلی شو چې د شېرشاه سوري په دربار کښې پښتو ته مرکزي حېثيت ورکول شوی ؤ (۱)

کله چې يوه ژبه د دربار يا سرکار له دره و شړل شي يا په مذهبي متنونو کښې په ليکلي بڼه يا درس و تدريس کښې ځان ته ځای ونه مومي نو هغۀ يوائې يوه ويونکې ژبه پاتې شي، اولسي او شفاهي اثار او تخليقات يې بډايه شي خو تحريري ضابطې،قواعد، املا او انشا يې ډېره ورو او شاته پاتې شي- شاهد هم ډغه علت دی چې کله موږ د پښتو ژبې و تخليقي او تحريري تاريخ ته رجوع کوو نو موږ ته ماتې ګوډې نخښې نښانې په لاس راځي-

د پښتو ژبې او ادب اولنۍ نخښې نښانې موږ ته د امير کروړ د تاريخي حماسې څخه لاس ته راځي چې په پټۀ خزانه کښې يې کال ۱۳۹ هجري ليکل شوی دی- د پټې خزانې په حکله اوږده تنقيدي بحثونه شوي دي او تر ډېره حده هغۀ سوالونه ځواب شوي دي ځکه نو تر دې دمه د امير کروړ حماسه د پښتو شعر د تاريخ يو مستند ډېرليک ګڼل شوی دی-

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.8 No.2 2024

په دې مقاله کښې موږ د پښتو د تحقیقي تاریخ په پړاوونو پسې پل راخیستی دی، دا مې کتلي دي چې د پښتو ادب په ساحه کښې د تحقیق هڅې له څه وختې راپېل شوي دي،څومره مزل یې کړی دی؟ څه ډول پړاوونه او واټونه یې پرې کړي دي؟- چونکه پښتو د درس و تدریس او لیک و لوست و لورته د خپل اوږد عمر په وروستیو کي لاره موندلې ده، تحقیق خو د تخلیق له شکمه راوځي ځکه نو دلته د سندي او غیر سندي دواړو تحقیقي هڅو یوه عمومي جائزه اخېستل شوې ده-

د پښتو ژبي او ادب پېړونه او تحقیق:

د نورو ژبو غوندي د پښتو ژبي او ادب پړاوونه او ادوار هم د پښتو نامتو لیکوالانو ټاکلي دي- که څه هم د دې ادوارو یا پېړونه په هکله پر ټاکل شویو پېمانو خبره کېدلی شي، خو موږ دلته خبره پر هم دې نکته را لنډوو چي په دې مقاله کښې مو د پښتو ادب د ټاکل شویو ادوارو یا پېړونو ترتیب په ذهن کښې نیولی دی-

په لرغوني پېر کښې د تحقیق نخښې نښانې:

د پښتو ژبي او ادبي تاریخ محققینو چي د پښتو ادب د زمانو کوم تعین کړي د پښتو ادب لرغونې زمانه معلوم تاریخ په تحریري بڼه د دویمي هجري پېړۍ څخه بیا تر ۹۰۰ هجري پېړۍ پوري زمانه ټاکلې ده.د دې ادبي پېر په حکله ډاکټر زیورالدین زیور داسي لیکي

"پخواني یا لرغوني دور له دوهمي هجري پېړۍ مخه تر ۹۰۰ هجري پېړۍ (۷۱۸-۱۴۹۴ع)"پوري رارسیږي. (سوریانو،غوریانو او لودیانو) عصردی.د دې آثار هم پراګنده ډول په لاس راغلي دي"(۲)

د پښتوادب لرغونې زمانې پېل د دویمي صدیٔ‌هجري کښې د منظوم ادب څخه کیږي کوم چي خالص د پښتو ژبي ادبي اثار په دغه زمانه کښې په نظر راځي- په دې زمانه کښې له موږ سره تر ټولو ثقه سند د د امیر پولاد د زوی د امیرکروړ منظومه ویاړنه یا حماسه ده چي په کال ۱۳۹ هجري کښې لیکل شوې ده او موږ ته د پټې خزانې له لاري لاسته راغلې ده.په دې زمانه کښې منظوم ادب ډېر څه چي په نظر ښکاري دا ټول د ثانوي سرچینو له لاري

په لاس راغلي دي.د بېلګي په توګه د بیټ نیکه مناجات،د اسماعیل سړبن اشعار،بابا هوتک اشعار،د شېخ تمین د میني اشعار او د اکبر زمیند اور غزل-

که په دې دوره کښې موږ د پښتو و منثور ادب ته ځیر شو نو معلوم تاریخ ۲۲۳ هجري پېړۍ څخه بیا تر ۹۰۰هجري پېړۍ پوري رسیږي.د پښتو ادب د لرغونې زمانې منثور ادب په حقله صدیق الله رښتین لیکي:

"موږ د موجوده معلوماتو له مخه د پښتو د نثر تاریخ د دویمي هجري پېړۍ له روستي برخي څخه شروع کوو ولي چي په دغه پېړۍ کښي د پښتو د یو منثور کتاب نوم موږ ته راسپدلی دی.که څه هم د نثر نمونه یې په لاس نشته خو د پښتو د نثر لومړی سر ورته ویلی شو"(۳)

د دې منثور کتاب نوم چي موږ ته رارسېدلی دی دا د هاشم سرواني "د سالو وږمه" ده چي موږ یوازي د پټې خزانې له لاري د دې منثور کتاب نوم په اړه معلومات تر لاسه کوو او دامنثور کتاب اوس نادره دی، او بل دا چي د دې کتاب د صحت په حکله هیڅ مستند لیکوال خپل نظر نه دی وړاندي کړی-

"د سالو وږمه"وروسته په دې زمانه کښې بل منثور اثر د سلیمان ماکو "تذکره اولیا" دی چي ټول اته مخونه یعني څلور پاڼې یې لاس ته راغلي دي- داسي انګېرل کیږي چي دغۀ اثر په ۶۱۲ هجري کښې تالیف شوی دی-

د پښتو ادب په دې (لرغونې) زمانه کښې لیکل شوي کتابونه اوس نایابه دي او د دې لرغونو متنونو په حکله له موږ سره یو اځي حواله پټۀ خزانه ده چي اتلسمي میلادي صدۍ کښې تالیف شوې یوه تذکره ده-

د لرغوني زمانې د څېړني په بهیر کښې تذکراة اولیا، لومړۍ تذکره ده چي په کښي ابتدائي تحقیقي هڅي شوي دي د دې زمانې د تحقیق د هڅو او تنقید نخښي نښانې په حقله ډاکټر صاحب شاه صابر لیکي

"د پښتو زوړ نثر ټوله دنیا په یو سو کتابونو اباده ده دغه کتابونه روحاني،مذهبي ،اخلاقي او تاریخي موضوعات لري اګرچې په دغه کتابونو کښې چرته د تحقیق او تنقید نخښي نښانې او اشارې کنایې په نظر

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.8 No.2 2024

راځي لکه فلاني وئيل دي د فلاني روايت دی د فلاني بياض نه نقل دی.په فلاني کتاب کښي چي د نظر تېر شوي دي او دغسي نور هغه بيانونه تر دې وخته سند نه لري او که لري هم ډېر ضعيف دی.داسي ضعيف چي ګوتي وروړي نو دوړيږي". (۴)

د پښتو ادب د لرغوني زمانې ډېر ادبي آثار د ذمانې د جبر په خړو لړو کښې له موږه ورک شوي دي- د پرله پسې بهرني، راتپل شويو او خپل منځي جنګونو، چپاوونو او بدمرغيو له جوره پر پښتني خاوره شته من مدنيتونو دوام نه دی درلودی، ځکه له دې ځايه لويه علمي او ادبي شته مني يا خو د خاورو شومه شوي دي يا بيا تاراج شوي دي- هم دغه سوب دی چي پښتانۀ اوس هم شفاهي روايت لري خو تحريري يا مرقوم اثار ورسره بېخي کم دي-

د تذکراۃ اوليا, د ځلورو پاڼو پرته موږ ته د دې زمانې نور څه نه دي راپاتي چي په دې کښي موږ د تحقيق کړه وړه ولټوو په عمومي توګه په دې پير کښي د تحقيق بنيادي تکنيکي او فکري اصولونه نه دي مراعت شوي د نورو ځنګلورو ژبو غوندي د پښتو ژبي او ادب تاريخ دغه لويه دوره دزمانې او د تاريخ په خړو لړو کښي له موږ څخه وړره ده.البته کومي هڅي چي په دې دوره کښي سوي دي هغه موږته د شعر او ژبي ځيني نمونې او کړۀ وړۀ خو راڅرګندوي خو بشپړه عکس بيا هم نه ترې جوړيږي. هم دغۀ سوب دی چي په تاريخي پېر کښې موږ ته د تحقيق ډير مواد په لاس راځي-

کلا سيکي پير:

لکه څنګه چي لوړ ذکر وشو چي د لرغونې يا پخوانۍ دوره تر ۹۰۰ هجري پوري دوام لري، له هم دې ځايه د کلاسيکي دورې پېل کيږي، کوم چي کلاسيکي دور د پښتو ژبي او ادب يو داسي دور دی چي پښتو په بشپړۀ توګه خپل تحريري هويت هم موندلی دی او د فارسي او عربي په مقابل کښې يې د اظهار خپل بائللی باور هم تر لاسه کړی دی

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.8 No.2 2024

د دې پېر پېل د بايزيد روښان د غورځنګ څخه کيږي چې په خپل اصل کښې تصوفي ؤ خو د دې سره پکښې د قامپالۍ ځرک هم تر سترګو کيږي، د دې په مقابل کښې د اخوند درويزه او د هغه د پلويانو غبرګون او د شعر په پېرايه کښې تبليغاتو د پښتو ژبې ليکدود (املا)، شعري روايت او تحريري متن ته لاره هواره کړه۔

په دې دور کښې د پير روښان "خيرالبيان" او د اخون درويزه "مخزن السلام" دوه داسې اثار دي چې نولسمې مېلادي صدۍ په پای او د شلمې صدۍ تر وروستيو پورې د تحقيقي څېړنو بنيادي موضوع وګرځېد۔

د دې دورې په دويم پړاؤ کښې د پښتو تر ټولو ستر شاعران لکه خوشحال خان بابا، رحمان بابا، حميد بابا، کاظم خان شېدا، علي خان، اشرف خان هجري، کامګار خټک او نور بلها تخليقي او نوموتي شاعران پيدا شوي دي۔ په دې کښې د خوشحال بابا حېثيت جدا ځکه دی چې هغۀ په لومړي ځل په پښتو کې د تخليقي اظهار قوت دريافت کړ او د پښتو ژبې د تخليق هغۀ مصنوعي عدت يې مات کړ چې د فارسۍ او عربۍ تر اثر لاندې جوړ شوی ؤ۔

که موږ د پښتو ادب و دې پېر ته ځير شو نو خوشحال بابا پکښې موږ لومړی نقاد او نثر ليکونکی ښکاري، د دې سره د هغۀ په شعرونو کښې موږ ته فارسۍ، عربۍ، او سنسسکرت د منل شويو اثارو تذکره هم په لاس راځي، د روښاني دورې د شاعرانو پر مجرد او بې نظمه شاعرۍ باندې انتقادي نظر هم په لاس راځي خو د تحقيق ونه دلته هم شنډه پاتې شوې ده۔ البته په دې پېر کښې که له موږ سره په لاس کښې څه شته نو هغۀ هم د محمد هوتک پټهٔ خزانه ده چې په کال۱۷۲۸-۲۹ کښې ليکل شوې ده۔

پښتو ادب په کلاسيکي پير کښې ليکل شوې تذکره پټه خزانه يو بشپړه تحقيقي تذکره ده چې نن هم د پښتو ژبې او ادب د تحقيق ارتقائي سفر چې کله د کلاسيک څخه نولسمې صدۍ ته نوځي نو پښتو ادبي تحقيق هم د اوسنې پېرغوښتنو سره مخامخ کيږي د پټې خزانې تر موندنې له مخه د پښتو تحريري ادب ابتدا د دريمې

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.8 No.2 2024

پېړۍ هجري څخه وه خود پټې خزانې د موندلو سره د پښتو تحريري ادب عمر ۱۳۹ هجري ته ورساوه.په دې حقله صديق الله رښتين ليکي.

"پټه خزانه د پښتو ادب په تاريخ کښې يو ډېر قيمتي او غوره کتاب دی چې د پښتو د ادبي تاريخ کښې يو ډيري تياري خواوي يې رڼا کړي دي.او د پښتو د ليکلي ادب تاريخ يې د هجرت دويمې پېړۍ لومړي سر ته رسولی دی.سربېره پر دې پټه خزانه د پښتو ژبې د نثر له مخه يو غوره اثر دی".(۵)

د پټې خزانې په کلمي نسخه کښې مور ته پنځوس(۵۰) شاعرانو د ژوند ، ذمانې او شعري نمونو کړۀ ورۀ په لاس راځي- په دې تاريخي تذکره د درو خزانومشتمله ده .لومړی خزانه کښې د هغو شاعرانو معلومات وړاندې کړي دي چې په لرغوني زمانه کښې تير شوي دي،د دغو شعرانوتعداددويشت(۲۲)دی، دويمه خزانه د مولف دمعاصرويوشت(۲۱) شاعرانو معلومات وړاندې کړي دي او په دريمه خزانه کښې هغه ۶ ښځينه شاعراني را پېژندل شوي دي کومو چې په پښتو کښې شعرونه ويلي دي-

پټه خزانه د کلاسيکي پير لومړی ادبي تحقيقي اثر دی چې د پښتو ادب کښې ډېر زيات ادبي،تحقيقي او تاريخي اهميت لري ځکه چې د پښتو ادب لرغونتيا او د هغې زمانې ډېر معلومات وړاندې کړي دي چې نن هم د تحقيق په برخه کښې د اساسي ماخذونو حېثيت لري- پټه خزانه اخوندزاده عبدالعلي په کال۱۹۴۳ کښې د پښتو و ستر محقق، نقاد او اديب علامه عبدالحی حبيبي صاحب ته حواله کړې وه، چې له امله يې د شلمې صدۍ په دويمه برخه کښې د پښتو د تحقيق او تنقيد په ډګر کښې نوي سوالونه راپورته کړل-

دنولسمې صدۍ ځا ي محقيقين او ختيځ پوهان: په نولسمه صدۍ عيسوي کښې د پښتو ادبي تحقيق په بهير کښې د ځايي محقيقينو د ادبي تحقيق هڅې د ياوني او ستايني وړ دي په نولسمه صدۍ عيسوي کښې ځايي محقيقينو له خوا د ژباړې له لارې پښتو ادب نوي مضامين ر وپېژندل.هم دا رنګه يې پښتو ادب کښې لغاتونه مرتب کړل.تذکرې او درسي کتابونه د ليکلو هڅې وکړې او ورسره يې د نولسمې صدۍ عيسوي په آخر کښې د

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.8 No.2 2024

کیسه ایز ادب نوي صنف ناول د ژباړي له لاري يې و پښتو ادب لمن ته وسپارل- پروفیسر راج ولي شاه خټک په دې حکله لیکي:

" په دیارلسمه صدی هجري کښې د روماني داستان یو گرم تحریک مخي ته راغي چي اکثر پکښې ترجمه ده په منظومه ترجمه کښې د رومان نه سیوا نور دیني موضوعات هم شامل دي بله برخه د دې تحریک د منثورې ترجمې تحریک دی چي خالص علمي صورت لري او بیا دغې علمیت یو تعلیم رحجان ته هم وده ورکړې ده".(۶)

په نولسمه صدی عیسوي کښې په پښتو ادب کښې په لومړي ځل د لغات لیکلو هڅه شوې ده.دا هڅه نواب محبت خان لخوا په ۱۲۲۰ هجري کښې کړې ده چي ریاض المحبت په نامه لغات لیکلي په دې حقله صدیق الله رښتین لیکي

"دغه فرهنگ او قاموس د پښتو ،پارسي یوه غوره او مفید فرهنگ گڼل کیږي. دا فرهنگ په ۱۲۲۰ھ کال کښې لیکل شوی دی چي موجوده معلوماتو له مخه د پښتو لومړی قاموس گڼل کیږي".(۸)

د نواب محبت خان د ریاض المحبت ورسته د لغات سازي په سلسله کښې یو بل لغت لیکلو هڅه نواب الله یار کړې ده چي د نواب محبت خان ورور وو په ۱۲۲۸ کښې د عجائب لغات په نامه یو لغت مرتب کړی وو

د لغات سازي وروسته په نولسمه صدی عیسوي کښې د ځایي محقیقینو لخوا د ژباړي هڅي شوي دي چي د نورو ژبو څخه يې رنگارنگ مضامین و پښتو ادب ته رادننه کړل په دې حقله راج ولي شاه خټک لیکي.

" په دیارلسمه صدی هجري کښې چي د کلاسیک د تکامل حدود راځرگند شول نو د عوامیت په لور یو بل مقبول رحجان خور شو.په دغه رحجان کښې د ترجمو په ذریعه هم او د اخذ ماخذ په شکل کښې هم گڼ مضامین پښتو ته راغلل".(۹)

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.8 No.2 2024

په نولسمه صدي عیسوي کښې د ځايي محققينو لخوا ديني او فقهي کتابو ،د قرآن شريف ژباړې او د دې صدۍ په آخر کښې د کیسه ايز ادب نوي صنف ناول ژباړه ترسره شوه. د ژباړې په دې سلسله کښې په ۱۲۲۷ﻫ کښې محمد انصاري د سعدي ګلستان ژباړلی وو چې تر دې د مخه هم د ګلستان ژباړه په پښتو ادب کښې موجوده وه.په ۱۲۷۵ﻫ کښې د مولانا واعظ کاشقي له تفسير حسيني څخه دوست محمد خټک د تفسير بدرمنير په نامه ترجمه کړې وه.هم دا رنګه مراد علي په ۱۸۸۲ﻫ کښې د قرآن شريف ژباړه د تفسيريسير په نامه کړې وه د ژباړې په کښې د مولوي احمد نوم ډېر اوچت مقام لري چې په ۱۲۸۹ﻫ کښې د سلطان محمد د غزنوي تاريخ فرشته ترجمه کړې وه. بيا يې د ګنج پښتو په نامه حکايتونه مجموعه په ۱۸۷۲ﻫ کښې ژباړلې وه.وروسته د قرآن شريف ترجمه هم کړې وه.مولوي احمد نه وروسته ملا پاینده خان په ۱۲۸۱ﻫ کښې د قرآن شريف ژباړه د تفسير افغاني په نوم کړې وه.محمد حسن د ځلورو سوو حديثونو ترجمه لباب الاخبار په نامه، شمس الدين کاکړ د تصوف مسائل په ۱۲۲۰ﻫ کښې د خلاصه المريدين په نامه ژباړلی وو. رضوان الله په ۱۳۰۳ﻫ کښې د اردو ژبې يوناني طب "طب بشير"څخه دطب اکسير په نامه ژباړلی.د نولسمې صدۍ په آخر کښې د کیسه ايز ادب يو نوی صنف ناول مياں حسيب ګل کاکا خيل د ډپټي نذير احمد ناول مرات العرس څخه په کال ۱۲۹۳ﻫ کښې د نقش نګين په نامه ژباړلی وو په دې حقله سيد محی الدين هاشمي ليکي

" په پښتو ادب کښې هم ناول ليکنه له اردو ادب څخه په ځانګړې او ژورې اغزمنې د ژباړنې له لارې د نولسمې پېړۍ په روستيو کلونو کښې د کوزې پښتونخوا په پېښور کښې پيل شوې."(۱۰)

د ختيځ پوهانو ليکل شوي اثار:

ختيځ پوهانو غرض که هر څه وو خو دوی د پښتو ژبې او ادب په ډګر کښې ډېر خدمات او تحقيقي هڅې کړې دي په نولسمې صدۍ عيسوي کښې ختيځ پوهانو د پښتو ژبې او ادب تاريخونه ،قاموسونه مرتب کړي دي.د ژبې او ادب قواعد نويسي واضح کړې د پښتو ژبې او ادب د مختلفو ليکوالانو د نظم او د نظر انتخاب او

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.8 No.2 2024

تشریح کړې ده، د عیسائیت د مذهبي کتابونو پښتوژباړي یې ترسره کړي دي.دلته به په لومړي ځل د هغو ختیځ پوهانو ذکر وکړو کومو چي په نولسمه صدۍ عیسوي کښي د پښتو ژبي لغات مرتب کولو هڅي کړي دي.

د انګلستان اوسېدونکي چي د انګلستان په بحري فوج کښي ملازم مېجر هنري جارج راورټي ۱۸۶۰ کښي اې ډکشنري آف پښتو ار لینګویج آف افغان A Dictionary) (of Pashto or Language of afghan په نامه د پښتو ژبي یو لغات مرتب کړي دي چي په 25 زره پښتو لغتونه ورسره د انګریزي ترجمه کړي په سلسله کښي یو بل ډېر مهم لغات انګرېز ډاکټر هنري والټر بیلیو په ۱۸۶۷ کښي اې ډکشنري آف پښتو لینګویج (A Dictionary of Pashto Language) په نامه لیکلې وه.هم دا راز د جرمني سره تعلق لرونکي ویلیم ګیګر په ۱۸۹۳ کښي د (Etymologies logic and lautelehere des Afghanistan) په نامه یوه رساله لیکلې وه چي د پښتو لغاتو نه د سنسکرت او اوستا او نورو ژبو سره یې مقایسه کړې ده-

په نولسمه صدۍ عیسوي کښي د پښتو ګرامر د لیکو هڅي کړي.په نولسمه صدۍ کښي تر ټولو لومړی د روس اوسېدونکی جولیس ون کلاپروت د پښتو ژبي یو ګرامر لیکلی وو چي نوم یې (Ueber die sprach and den unsparing der Afghanistan)کښي په پیترزبورګ کښي چاپ شوی په دې ګرامر کښي کلا پروت د پښتو ګرامر جوړښت د افغانانو ژبه او د هغې منشا په روسي ژبه کښي لیکلی وو.د نولسمي صدۍ کښي یو بل نوم د مېجر آریچ چي د انګلستان په فوج کښي ملازم وو د پښتو ګرامر په حلقه یوه رساله په ۱۸۳۹کښي اې ګرامر آف پښتو اور افغان لینګویج (A Urmpar of Pashto or Afghan language)په نامه لیکلې وه. هم دا راز په ګرامر لیکلو کښي د جرمني سره تعلق لرونکي پروفېسر برنارډ رون په ۱۸۴۰ کښي (A Urmpar das Pashto order die sparach der Afghan petersbury under british rule)په نامه ګرامر لیکلی وو.په ګرامر لیکنه کښي کپتان وان نوم ډېر مشهور دی کپتان وان ۱۸۵۴-۵۵ کښي (A Grammer and vocabularys of Pashto language spoken in trance-indus territories)په نامه کتاب لیکلی وو دا کتاب کپتان وان په دو برخو کښي وېشلی وو د کتاب اوله برخه ګرامر او دویمه برخه کښي انګرېزي لغات په پښتو معني شوي دي.د ګرامر لیکنه په میدان کښي مېجر راورټي ډېر مهم اثر لیکلی دی.مېجر هنري جارج راورټي په ۱۸۵۵ کښي ګرامر آف پښتو او پښتو لینګویج (A Grammar of Pashto or Pashto language)په نامه ګرامر لیکلی وو. د ګرامر په آخر کښي د پښتو د درې ورې اولسي کیسې هم رواړي. د ګرامر لیکلو په سلسله کښي د ډاکټر والټر بیلیو نوم هم راځي چا چي په ۱۸۶۷ کښي اې ګرامر آف پښتو ار پښتو لینګویج (A grammar of Pashto or Pashto language)په نامه ګرامر لیکلی وو. دا رنګه د جرمني اوسېدونکی ډاکټر ایرنسیټ ټرومپ هم په انګریزي ژبه کښي د پښتو ژبيي ګرامر لیکلی وو. د ګرامر کتاب ډاکټر ایرینسیټ په ۱۸۷۳ کښي اې ګرامر آف پښتو او لینګویج آف دي افغان په نامه کښلي وو.

په نولسمه صدۍ کښي د درسي مقاصدو لپاره د پښتو ژبي د شاعرانو د نثر او نظم منتحات کړې

پښتو ژبې د منثور او منظوم آثارو په منتنجات کښې لومړی نوم د جرمني اوسېدونکي پروفېسر برنارډ ډرون غه راځي پروفېسر برنارډ په ۱۸۴۷ کښې د (Chrestomathy of Pashto or afghan language)کریستوماتي آپ پښتو اور افغان لینګوېج په نامه کتاب ولیکو په دې کتاب کښې پروفیسر برنارډ د پښتو انګرېزي ژبو لغات د الفبا په ترتیب مرتب کړی او د کتاب په آخر کښې د پښتو ادب د کلاسیکي شاعرانو د شاعري څخه انتخاب شوي دي.

د پښتو نثر او نظم د انتخاب په سلسله کښې دویم نوم د مېجر هنري جارج راورټي دی چا چي د ګلشن روه (Gulshan-i-roh) په نامه په کال ۱۸۶۰ کښې کتاب تالیف کړی.دا کتاب مېجر روارټي په دو برخو کښې وېشلی دی، په لومړۍ برخه کښې د نثر انتخاب دی چي د تاریخ مرصع،فوائد الشریعت،علم خانه دانش، دبابو جان کیسې،مخزن الاسلام او ګلدسته څخه ماخزونه راټول شوي دي.په دویمه برخه کښې د نظم انتخاب شوی دی چي پکښې د خوشحال خټک ،رحمن بابا ،حمید بابا ،خواجه محمد بنګش ،میرزا خان انصاري ،کاظم خان شیدا ، د اشرف خان ،عبدالقادر خټک او احمد شاه بابا ددېوانونو څخه نظمونه د نمونو په توګه راوړل شوي دي. په دې کتاب کښې د یادو کلاسیکي شاعرانو په حکله په لومړي ځل داسي معلومات راټول شوي او خپاره شوي دي چي د شلمې او یویشتمي صدۍ و محقیقینو ته هم د نورو پلټنو بلنه ورکوي، خصوصا د کلاسیکي شاعرانو د ژوند حالات او د هغوی د ژوند کړۀ وړۀ تر ډېره حده تعقیب کړي او د تاریخ په پاڼو کښې خوندي کړي دي۔

په نولسمه صدۍ کښې د درسي مقاصدو لپاره د نظم او نثر په انتخاب کښې یو بل نوم د پادري تهامس پیټرک هیوزودی چي ډېر اهم اثر یې لیکلی دی. پادري هیوز په ۱۸۷۵ کښې د کلید افغاني (Kalid-i-afghani)په نوم یو اثر کښلی.د اثر په درو برخو وېشل شوی دی.ړومبۍ برخه یې د نثر ده چي د پښتو ژبې د مختلفو ځایي محقیقینو د کتابو څخه منتخبه انتخاب پکښې شامل دی. او دویمه برخه د نظم ده ، د نظم په برخه کښې د خوشحال خان خټک،رحمان بابا د دیوان ونو څخه د غوره چڼ شوی دی - د دې سره یې د چمن بې نظیر په نوم د پښتو ژبې د مختلفو شاعرانو غزلونه راجمع کړي دي ورستۍ او دریمه برخه د انشا پښتو ده چي د پښتو نولس خطونونمونې په نثر کښې راوړل شوي دي.

د نولسمي صدۍ په آخر کښې یو مشهور نوم د سي،اي،بیډلیف دی چا چي په ۱۸۹۰ کښې (afghan poetry of the seventeenth Century)په نامه کتاب لیکلی دی دا کتاب بیډیف په دوو برخو وېشلی دی لومړۍ برخه کښې د پښتو ژبې د ګرامر قاعدې لیکلي او په دویمه برخه کښې د خوشحال خان خټک د منتخبو اشعارو ترجمه په انګرېزي ژبه کړي.

دلته په دغه ختیځ پوهانو ذکر وکړو چا چي په نولسمي صدۍ کښې د نورو ژبو کتابونه په پښتو ترجمه کړي یا یې د پښتو ژبې کتابونه په انګرېزي ژبه ترجمه کړي.د ژباړي په برخه کښې زیاتره ختیځ پوهانو د دیني او فقهي مسائلو کتابونه په پښتو ژبه ترجمه کړي دي.په نولسمه صدۍ کښې د ژباړي په برخه کښې لومړی نوم د پادري

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.8 No.2 2024

ویلیم کېري دی چا چي د نولسمي صدۍ په سر کښي یعني په ۱۸۱۸ کښي انجیل په پښتو ژبه ترجمه کړی.پادري ډاکټر جان لیډن هم په ۱۸۱۸ کښي د انجیل په پښتو ترجمه د "خدای تمامي خبري"په نامه کړي.هم دا راز جان لیډن د پښتوژبي د اخون درویزه مشهوره اثر "مخزن الاسلام" په انګرېزي ژبه ۱۸۱۸ کښي ترجمه کړي.پروفېسر برنارډ ډرون په ۱۸۲۹ کښي د نعمت هروي کتاب مخزن افغاني په انګرېزي ژبه ترجمه کړي. پادري تهامس پیټرک هیوز هم په ۱۸۶۳ کښي انجیل په پښتو ترجمه کړی.او مېجر هنري جارج راورټي په ۱۸۶۰ کښي انجیل په پښتو ترجمه کړی.مېجر هنري جارج راورټي طبقات ناصري په ۱۸۶۵ کښي په انګرېزي ژبه ترجمه کړی.هغه د ایسپ حکیم کیسې هم په ۱۸۷۱ کښي په پښتو ژبه ترجمه کړي او چاپ کړي دي. هم دا ډول د اولسي ادب په مېدان کښې د ایس تهوربرن ۱۸۷۶، جېمز ډار مستیټر، ایف بلوم هارټ په ۱۸۹۳، د مېجر راورټي ۱۸۸۰، او نورو ختیځ پوهانو راټولوني، پلټني او تالیفونه خپاره شوي دي چي د پښتو اولسي ادب په ډګر کښې یې د نور تحقیق لپاره لاره ښه هواره کړې ده-

په نولسمه میلادي صدۍ کښې ځایي لیکوالانو چاپي اثار:

په نولسمه صدۍ عیسوي کښي د ځایي محقیقینو لخوا یو بل مهمه هڅه دپښتو ژبي ژبپوهني یعني ګرامر او تعلیمي کتابو لیکلو پیل شوي په ګرامر لیکني کښي ډېر مهم نوم د نور محمد نوري دی چي په ۱۲۸۰ھ کښي د تحفته الامیر په نامه پښتو ګرام لیکلی وو.د نور محمد نوري په حقله صدیق الله رښتین لیکي

"مولوی نور محمد نوري د کندهار یو پوهه لیکوال،مورخ او عالم سړی دی.دی یو ګرځنده سړی ؤ.ډېر وخت یې په هند کښي تېرکړی دی وائي چي لندن ته هم تللی ؤ.د امیر شیر علي خان په زمانه کښي ژوند کاوه او د هغه په نامه یو پښتو ګرامر (تحفته الامیر) لیکلی دی."(۱۱)

د پښتو ژبي د زده کړي او ګرامر لیکلو په دې سلسله کښي یو بل مهم نوم د مولوي اسماعیل راځي چي د پښتو ژبي ښه شاعر او ادیب ؤ مولوي اسماعیل هم د مولوي نور محمد نوري په رنګه د پښتو ګرامر او پښتو ژبي زده کړي لپاره ډېر کتابونه لیکلي وو.د مولوي اسماعیل د ګرامر د کتابو په حقله زلمی هیواد مل لیکي.

"دې سړي د پښتو زده کړي لپاره ډېر کتابونه کښلي دي چي د څو نومونه یې دا دي.آئینه الفاظ افغاني په ۱۳۰۰ھ کال تالیف شوې ده... اتالیق پښتو د ده بل کتاب دی چي په ۱۸۹۶ , کال په ایبټ آباد کښي چاپ شوی دی.خزینه

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.8 No.2 2024

افغاني،سوال و جواب افغاني،پښتو خبري اتري چي په ,۱۸۹۰ کال په لاهور کي چاپ دی.گفتگو افغانی با ترجمه هندوستانې چي په ۱۸۸۳ , کال په ايبيټ آباد کښي چاپ شوی دی."(۱۲)

د نولسمي صدی عيسوي په آخر کښي مير احمد شاه رضواني د پښتو ژبي د زده کړي لپاره د تذکرو په شکل کښي دوه کتابونه ليکلي وو يوه د بهارستان افغاني په نوم په ۱۸۹۸ , کښي او بل د شلمي صدی په شروع کښي په ۱۸۹۸ , کښي د شکرستان افغاني په نوم ليکلی ؤ-

ختيځ پوهانو غرض که هر څه وو خو دوی د پښتو ژبي او ادب په ډگر کښي ډېر خدمات او تحقيقي هڅي تر سره کړي دي- په نولسمي صدی عيسوي کښي ختيځ پوهانو د پښتو ژبي او ادب تاريخونه ،قاموسونه مرتب کړي دي.د ژبي او ادب قواعد نويسي واضح کړي د پښتو ژبي او ادب د مختلفو ليکوالانو د نظم او د نظر انتخاب او تشريح کړي د مذهبي کتابو ژباړي پکښي شاملي دي د پښتو ادب د تحقيق په ارتقائي سفر کښي په نولسمي پېړی کښي ختيځ پوهانو د تحقيق پروسه د عصري سائينسي ميتوډولوجي پر اساس رامنځ ته کړي چي د پښتو ژبي او ادب په اړه ډېر پټ حقائق رابرسيره شو ي

په شلمه صدی کښې تحقيقي هڅې:

په شلمي صدی عيسوي کښي د پښتو ژبي او ادب د تخليق نوي فنون هم رامنځ ته شوي د نوي فنون د راتلو سره سم تحقيق هم د نوي فنون په چوکاټ کښي ترسره شوي او د نوي ادبي تحقيقي رحجانات او امکانات رامنځ ته شوپه شلمه ميلادي پېړی کښي په ړومبی نيمائي کښي د ځائي محقيقينولخوا چي ادبي څېړني مقالو او مقالو وضيعت چي په بيلا بيلو څېړنيزو کتابونو ،رسالو کښي خپاره شوي او اوس مهاله هم په پښتو ژبي او ادب کښي د ورته ډول تحقيق له لاري څېړني دوام لري.په شلمي پيړی کښي چي کومي تحقيقي هڅي شوي د دې تحقيقي هڅو په حقله صاحب شاه صابر ليکي:

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.8 No.2 2024

د شلمې پیړۍ عیسوي په وړومبۍ نیمائي کښې د نمونو راغونډولو ،تاریخ،ترتیب او هنر په حقله د څه لیکلو ضرورت تند سو اګرچې دا ضرورت مخکښې هم وو او یو څو مغربي پوهانو په دغه لور پام لرنه هم کړې وه".(۱۳)

په شلمې میلادي پېړۍ عیسوي کښې د غیر سندي تحقیق له لاري د پښتو ادب د کلاسیکي شاعرانو شعري او نثري آثارو د متنونو پلټنې،د دوی کلامونو ترتیب او تدوین او د هغوی په ژوند او فن باندي د مقدمو او سریزي په شکل کښې ډیري څېړني شوي دي چي نن هم د پښتو ژبي او ادب د څېړني په ډګر کښې د بنیادي اساسي ماخذونو اهمیت لري۔

په شلمې میلادي پېړۍ عیسوي کښې د غیر سندي تحقیق له لاري په پښتو ژبي او ادب کښې په لومړي ځل د پښتو ژبي او ادب تاریخ لیکل شوئ په دې حقله ډاکټر زیورالدین زیور د خپل کتاب د پښتو ادبیاتو تاریخ لرغوني دوره په پیژندګلو کښې داسي لیکي

"په خپله پښتو د شلمې عیسوي پېړۍ نه د مخه د پښتو ادبیاتو تاریخ کومه خاصه پاملرنه نه ده کړې چي د پښتو ادبیاتو تاریخ او تذکیرې یې لیکلي وي...د دې پېړۍ په سر کښې د علمي څېړنو او تحقیقاتو په ډګر کښې پښتو پوهانو هلي ځلي پیل کړي چي د پښتو ادبیاتو تاریخونه او یو شمېر تذکرې او مقالي یې لیکل چي د پښتو ادبیاتو د علمي څېړنو لپاره هغوی له ګټور توب څخه سترګي نه شو پټولای"(زیور، ۱۳۸۹ ل ه، پېښور، مخ ۷۰)

د شلمې صدۍ په درېمه لسیزي کښې په افغانستان کي ځائي لیکوالانو او محقیقینو د پښتو ژبي او ادب د تحقیق په ډګر کښې هڅي پېل کړي دي۔ په دې لړ کښې د علومو اکېډمۍ زښت ذیات کار کړی دي، د دې کار تر شا د ویښ ذلمیانو د غورځنګ فکري تناوونه دي چي په لومړي ځل یې د پښتو ژبي د روزني ښووني، لغاتو، ژب پوهني، کلاسیکي متنونو او تاریخ باندي زښت ذیات کار ته پښتانهٔ لیکوالان هڅولي دي، دلته د تحقیق په ډګر کښې تر ټولو ذیات کار د عبدالحی حبیبي، عبدالشکور رشاد، ګل پاچا اُلفت ، عبدالرؤف بېنوا، عبدالله بختاني، قیام الدین خادم دي چي د پښتو ادب په تحریري او ژفاهي روایت کښې د ادبي ستورو په نامه

یادیږي- نوروسته هم دغهٔ کاروان مخته روان شو چي ورځخه د ژبي او ادب په ډګر کښي يې نوي او توانمنه وينه پیدا کړه، په دې کاروان کښي د زلمی هیوادمل، حبیب الله تری،صدیق، صدیق الله رښتین، صدیق پسرلی، رسول باوري، زرین انځور، امان الله ساهو او نور ډیر مخور محققین رامنځ ته شوي دي-

هم دا ډول په پاکستان کښي په دې دور کي د دوست محمد خان کامل، حمزه خان شینواري، ظفر کاکاخېل، تقویم الحق کاکاخېل، قلندر مهمند ،مولانا عبدالقادر، همیش خلیل ، سیال کاکړ،سلما شاهین، نواز طاهر، پریشان خټک، او نورو ډیرو محققینو او لیکوالانو د پښتو ژبي او ادب په ډګر کښي معنوي ذیاتونه کړي ده- پښتو اکېډمی چي په کال ۱۹۵۵ کښېپه پېښور پوهنتون پرانستل شوه د پښتو ژبي او ادب سره اړوند علمي او ادبي موضوعاتو باندي د تحقیق میدان نورهم تود شو-

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.8 No.2 2024

سندي تحقیق :

د پښوژبي او ادب د تحقیق په ارتقائي بهیرکښي د شلمي صدۍ په آخري نیمائي کښي پښتو تحقیق کښي سندي تحقیق را منځ ته شوي،سندي تحقیق هغه تحقیق ته وائي چي د سند د اخستلو دپاره ترسره کیږي په دي هکله ډاکټر محمد اشرف کمال لیکي:

"سندی تحقیق کے حوالے سے آج کل یونیورسٹیوں میں زیادہ کام ہورہا ہے -سندی تحقیق وہ تحقیق ہے جو کہ یونیورسٹیوں میں ایم اے،ایم فل اور پی ایچ ڈی کی سطح کے تحقیقی مقالہ جات کی صورت میں کی جاتی ہے".(کمال،۲۰۱۷،مخ. ۴۰ - ۴۱)

ژباړه: نن ورځ په پوهنتونونو کښي د څېړني په اړه ډېر کار تر سره کیږي.سندي تحقیق هغه تحقیق دی چي په پوهنتونونو کښي د ایم اې، ایم فل او پي ایچ ډي په کچه د څېړنیزو مقالو په بڼه تر سره کیږي-

د پښتو ادب سره په اړوند موضوعاتو ته د شلمي صدۍ په څلورمه لسیزه کښې د خدیجه فیروزالدین پام ور واوښت، هغې د خوشحال خان خټک پر فن او ژوند په کال ۱۹۴۴ کښې د خپلي پي ایچ ډي تهیسس پېل وکړ او دغۀ ډول د سندي تحقیق لومړی مقاله له پنجاب پوهنتون څخه راپېل شوه، که څه هم دغۀ مقاله په انګریزي کښي لیکل شوې ده خو وروسته پښتو او اردو ته هم ژباړل شوې ده، البته په پښتو ژبه د پي ایچ ډي لیکلو روایت د شلمې صدۍ تر اتمي لسیزي پوري مخ ته نه دی اغلی-

په پاکستان کښې د سندي تحقیق په نتیجه کښې د تر سره شویو پي ایچ ډي دګریانو په حکله ما (عبد الصمد) د ډاکټر برکت شاه کاکړ په نګراني کښي خپله د ایم فل مقاله بشپړۀ کړه- په دې مقاله کښې ما دا هڅه کړې ده چي د دې بشپړۀ شویو پي ایچ ډي موضوعاتي څېړنه وکړم- لاندي چي کوم معلومات راوړل شوي دي هغۀ د هم دې ایم فل تهیسس یوه مهمه برخه ده-

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.8 No.2 2024

په پښتو ژبې او ادب په پاکستان کښې له 1984 څخه بیا تر کال 2021 پورې یو سل اووه (107) پي ایچ ډي شوي دي په دې یوسل اووه (107) پي ایچ ډي کښې یوڅلوېښت (41) پي ایچ ډي د پښتو ژبې او ادب سره تړلې اشخاصو متعلق څېړنې شوي دی چې په سل کښې 38.31 فیصد د اشخاصو په حقله جوړیږي. د خوشحال خټک د شاعرۍ ،نثر او ژوند په حکله څلور4 پي ایچ ډي مقالې، او د رحمان بابا د افکارو، ژوند او هنر په حکله پنځه پي ایچ ډې مقالې تر سره شوي دي- د دې سره سره 25 پي ایچ ډي مقالې د مختلفو شخصیاتو په حکله تر سره شوي دي. د هم دې ایم فل مقالې د پلټنې په ترڅ کښې موږ دې نتیجې ته راسو چې د شاعرۍ په دغر کښې (15) پي ایچ ډي مقالې تر سره شوي دي چې په سل کښې 14.01 فیصد جوړیږي.

هم دغۀ ډول د افسانوي ادب په ډګر کښې نهه(9) پي ایچ ډي مقالې بشپړۀ شوي دي چې په سل کښې 8.41 فیصد حصه جوړیږي.د غیر افسانوي تخلیقي ادب په میدان کښې درې (3) پي ایچ ډي مقالې په کامیابۍ سره تر سره شوي دي چې په پاکستان کښې تر کال ۲۰۲۲ پورې د ټولو پي ایچ ډي مقالو 2.80 فیصده جوړیږي.

د اولسي ادب سرېه اړوند بېلابېلو موضوعاتو او اصنافو شپږ پي ایچ ډي مقالې تر سره شوي دي چې په پاکستان کښې د ټولو پي ایچ ډي 5.60 فیصده جوړیږي، ه مدا ډول کلتور پر موضوع څلور(4) پي ایچ ډي مقالې تر سره شوي چې په پاکستان کښې د ټولو پي ایچ ډي 3.73 فیصده جوړیږي.

د دې سره سم دسیمو،ادارو،مجلو، د پښتو ژبې او ادب په وده کښې د ونډې پر مضوع په مجموعي توګه ( 9) پي ایچ ډي مقالې تر سره شوي دي چې په پاکستان کښې د ټولو پي ایچ ډي8.41 فیصده برخه جوړیږي،

د دې ایم فل مقالې له حوالې دلته موږ د سهیلي پښتونخوا پر ونډه هم خبره کولی شي چې په مجموعي توګه ټولې اووه(7) پي ایچ ډي مقالې تر سره شوي دي- د دې یو علت هم دا دی چې دلته په پښتو څانګه بلوچستان پوهنتون کښې د سندي تحقیق څانګه تر ډېره وخته شنډه پاتې شوې ده، ځکه لومړۍ پي ایچ ډي مقاله په کال ۲۰۰۸ کښې ډاکټر نصیب الله سیماب تر سره کړه او د هغۀ وروسته دا کاروان پر مخ روان شو او دا مهال د اووه بشپړۀ شویو مقالو علاوه دیارلس نور پي ایچ ډي سکالران د ژبې او ادب پر بېلابیلو موضوعاتو د مقالو لیکلو په کار بوخت دي

پایله:

د پښتو ژبې او ادب په ډګر کښې د تحقیق روایت ډېر پخوانی نه دی، د نورو ژبو غوندې دلته هم اول تخلیق د هغۀ وروسته تنقید او ورورسته دلته تحقیق رامنځ ته شوی دی- د کلاسیکي متونو د مطالعې څخه چې کوم

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.8 No.2 2024

تحقیقي مواد په نولسمه او شلمه صدۍ کښې را پیدا شو هغۀ د پښتو ژبې او ادب و تحقیق ته لاره هواره کړه۔ د مستشرقینو څېړنې او ادبي تاریخ خصوصا نوي مباحث رابرڅېره کړل، چې په افغانستان او پاکستان کښې پښتو ژبې، ادب او تاریخ په ډګر کښې د پښتو ولمن ته ډېره معنوي شته مني ولوېده۔ د تحقیق په وده او پائېښت کښې تحقیقي مجلو ډېره مهم کردار پاتې شوی دي دی چې د تحقیقي مضامینو او مقالو و چاپ ته یې لاره هواره کړه، د دې سره د پښتو اکېډمۍ پېښور، د علومو اکېډمۍ کابل او د پښتو اکېډمۍ کوټې له اړخه د ادبي تحقیق د چاپ مهمه پروژې تر سره شوي دي، خو د سندي تحقیق په ډګر کښې د پښتو څانګو بنسټېز رول دی۔ دغۀ روایت ورځ تر ابلې نور معنوي او معیاري کیږي او دا هیله ده چې په راتلونکي کښې به د پښتو او نورو څنګلورو ژبو د ادب تر منځ مقائسوي څېړنې هم وشي او د پښتو ادب د بېلابېلو اصنافو تحلیل او څېړنه به د نوي تحقیقي نظریاتو او تکنیکونو په درشل کښې تر سره شي۔

حوالې:

1) Rahman, T. (2001). The learning of Pashto in North India and Pakistan: An historical account. Journal of Asian History, 35(2), 158-187.

۲)زیور، ډاکټر زیور الدین(۱۳۸۹)پوهاند ،د پښتو ادبیاتو تاریخ لرغونې دوره،مهین خپروندویه ټولنه،دریم چاپ،مخ ۴۰

۳) رښتین،پوهاند صدیق الله،د پښتو نشرهند اره،یونیورسټي بک ایجنسي،خیبر بازار،پېښور ،مخ ۲۳

۴) :صابر، ډاکټر شاه،صاحب(2015)د پښتو شاعري په وده کښې د تنقید کردار،د اماراتو پښتو ادبي ټولنه مرکز،دوبۍ، مخ۲۹،

۵) رښتین،پوهاند صدیق الله،د پښتو نشرهند اره،یونیورسټي بک ایجنسي،خیبر بازار،پېښور ،مخ۱۴۷

۶) خټک ،ډاکټر،راج،ولي شاه(1979)د پښتو ادبي تحریکونه.پښتو اکېډیمي ،پېښور یونیورسټي،مخ۴۵۲

۷) رښتین،پوهاند صدیق الله،د پښتو نشرهند اره،یونیورسټي بک ایجنسي،خیبر بازار،پېښور ،مخ۱۶۸

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.8 No.2 2024

۸) خټک ،ډاکټر ،راج،ولي شاه(1979)د پښتو ادبي تحریکونه.پښتو اکېډیمي ،پېښور یونیورسټي،مخ۴۵۴

۹) همدغه اثر، مخ.۴۵۴

۱۰) هاشمي،سید محی الدین(2010)د نثري ادب ډولونه(ادبي ژانرونه) وحت خپروندویه ټولنه،مخ۱۱۵

۱۱) رښتین،پوهاند صدیق الله،د پښتو نثرهنداره،یونیورسټي بک ایجنسي،خیبر بازار،پېښور ،مخ ۱۸۲

۱۲) هیواد مل،زلمی(2011) د پښتو نثر اته سوه کاله.دانش خپروندویه ټولنه،دویم چاپ،مخ۶۹۹،۶۹۸

۱۳) صابر، ډاکټر شاه،صاحب(2015)د پښتو شاعري په وده کښې د تنقید کردار،د اماراتو پښتو ادبي ټولنه مرکز،دوبۍ، مخ۵

۱۴)ډاکټر زیور الدین(۱۳۸۹)پوهاند،د پښتو ادبیاتو تاریخ لرغوني دوره،مهین خپروندویه ټولنه،دریم چاپ،مخ۷۰

۱۵) کمال، ڈاکٹر محمد اشرف (۲۰۱۷)تحقیق او تدوین متن،سٹی بک پوائنٹ، مخ۴۴